بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۰۹ ذوالحجه ۱۴۴۰هـ | ۱۰-۰۸-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۳

مطبوعاتي اعلاميه

# حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان

## د نړۍ مسلمانانو ته د نېکمرغه لوی اختر مبارکي وايي

د **حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر** ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه لوی اختر د رارسېدو مبارکي وايي او الله سبحانه وتعالی ته د دعا لاسونه پورته کوي، ترڅو زموږ او ستاسو طاعات، عبادات، حج او قرباني په خپل دربار کې قبولې کړي او د خير او برکت، نصرت او برياليتوب دروازې د اسلامي امت پر مخ باندې پرانېزي.

د قربانۍ عيد د الله سبحانه وتعالی د رضا او د اسلام د قايمولو لپاره د ابراهيمي سنتو د رسم او رواج د دوام پر بنسټ د ځان، مال او ژوندانه د تر ټولو ښو څېزونو قربانول دي. مګر له هغه ځايه چې د نړۍ د اوسني نظم رهبري د مفسدين فی الارض او د دې عصر د دجالانو لاس ته لوېدلې، هغوی د لوی اختر خوشالۍ په اسلامي خاورو په ځانګړې توګه په افغانستان کې په غميزه بدلې کړې دي.

په داسې حال کې چې د يوه مسلمان وينه الله متعال ته تر کعبې ډېر ارزښت لري، د دې پر ځای چې د مسلمان وينه د اسلام د حاکميت او سرلوړۍ لپاره تويې شي، متاسفانه د دغه امت د بچيانو وينه د امريکا د ګټو، د لاسپوڅو دولتونو د بقا او خپل منځي جګړو لپاره ضايع کيږي.

لکه څنګه چې يرغلګرو له هوا او ځمکې د افغانستان د مسلمانانو سينې د خپلو تروريستي او وحشيانه بريدونو هدف ګرځولې، د فکري او ثقافتي بريدونو په ترځ کې يې ذهنونه د انحطاط لور ته بېولي او ځوانان او سياستوال يې لار-ورکي کړي دي. امريکا د خپلو اغوا کوونکو سياسي پروګرامونو له مخې په افغانستان کې د دايمي نفوذ په هڅه کې ده، مګر داسې ښيي چې موږ د جنګ د ختمولو او سولې د تحکيم په هڅه کې يو. حال دا چې د امريکايي سولې له منځه وحشت او جنګ اوريږي.

اسلامي امت به د عيد پرمهال واقعي خوشالي هغه وخت حس کړي چې د اسلامي مبداء او ارزښتونو پر بنسټ نوی سياسي نظم رامنځ ته شي او د مسلمانانو د ژوند په ټولو برخو کې پلی شي او داسې رهبران د قدرت پر ګدۍ کښېني چې اسلامي ارزښتونه، د اسلام تطبيق او د مسلمانانو وينې او عزت ورته سرې کرښې وي. نه دا چې شخصي، قومي، مذهبي او جغرافيوي کوچنۍ ګټې ورته سرې کرښې وي. ان شاء الله العزيز چې د داسې ورځې راتلل لېرې نه دي، چې د امت سترګې يو ځل بيا د راشده خلافت په نور باندې روښانه شي او د امت غم لړلې ورځې د خوشالۍ او يووالي په جشن باندې بدلې شي، مګر ړوند اندي هغه لېرې بولي، حال دا چې الله سبحانه وتعالی پر هرڅه قادر دی.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**